نړیوال بانك
له بې وسۍ، فقر او غربت څخه ژغورلې
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

د ماليې وزارت

# خبري څرګندونه

**کابل، د سپتمبر ۱۱ مه، ۲۰۰۸ کال:** نن د افغانستان دولت او نړیوال بانك د ۸ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د وړیا مرستې موافقه لاسلیك کړه ترڅو د کلیو په کچه د اوبو لګولو کوچنیو پروژو د ملاتړ له لارې د غنمو او نورو غلو تولید زیات شي. دا موافقه لیك د ماليې وزیر جلالتمآب انوار الحق احدي او د نړیوال بانك د افغانستان څانګې مشرې مریم جې شېرمن له خوا لاسلیك شوه.

**په افغانستان کې د خوراکي بحران په وړاندې د غبرګون پروژه هغه منځ مهاله پانګه اچونو ته پام کوي چې د خوراکي خوندیتوب د** تدریجي زیاتوالي لپاره پکار دي. دا پروژه به د اوبو لګونې کابو **۵۰۰** کوچنۍ مروجې پروژې تمویل کړي چې د هېواد د کرهنې د بیارغونې لپاره مهمې دي.

«*کرهنه او اوبه لګول ددولت د لمړیتوبونو څخه دي*» دا مطلب د افغانستان د ماليې وزیر، جلالتمآب انوار الحق احدي څرګند کړ او زیاته یې کړه چې «*څرنګه چې د افغانستان د غنمو تولید په سلو کې کابو ۷۰ برخې د اوبه شویو ځمکو څخه لاسه ته راځي نو ځکه مهمه ده چې مونږ د اوبو لګونې سیستمونو ته لمړیتوب ورکړو. د بیړني ځواب لپاره دولت د غنمو اخستلو او د ملګرو ملتونو نړیوال خوراکي پروګرام او نورو مرستندویه ادارو ترمنځ د همغږۍ لپاره هڅه کوي تر څو دا بحران لېرې شي.*»

د کلیو د اوبو لګونې سیستمونو لپاره ددې مرستندویه بسپنو په کارونې سره به د اوبو لګونې د هغه کوچنیو پروژو شمېره چې د نړیوال بانك له خوا د ۲۰۰۲ کال راهیسې تمویل شوې دي، ۶۰۰۰ ته زیاته شي. همدا راز، نړیوال بانك کابو سل میلیونه امریکایي ډالره د اوبو لګونې د سیستمونو د بیارغونې منځنیو پروژو لپاره تمویل کړي دي.

«*افغانستان د خوراکي توکو د اوسني بحران د حل لپاره لا زیاتو سرچینو ته اړتیا لري.*» دا مطلب مریم شېرمن چې د نړیوال بانك د افغانستان د څانګې مشره ده ښکاره کړ او زیاته یې کړه چې «*د نړیوال بانك مرسته د پیل ټکی دی او مونږ د افغانستان د نورو پرمختیایي ملګرو او خېر ښېګڼې مرستندویه ادارو سره نږدې همکاري لرو ترڅو نیمګړتیاوې لیرې کړو.*»

دا پروژه د نړیوال بانك د هغه نوی نړیوال پروګرام له لارې چې د خوراکي توکو د نړیوال بحران د مبارزې لپار جوړ شوی تمویل شوې ده. دا پروژه به د کلیو پراختیا او بیا رغونې وزارت له خوا د کلیو د ټاکل شویو پرمختیایي شورا ګانو له لارې په هغه ولایتونو کې پلي شي چې د وچکالۍ او خوراکي توکو د کموالي له امله یې تر ټولو زیات زیان موندلی دی.

*********************

د نورو معلوماتو لپاره کولای شی په لاندې توګه اړیکه ونیسی:


عبدالرووف ضیأ
د بهرنیو چارو مسؤول
نړیوال بانك
۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰
azia@worldbank.org

عزیز شمس
د رسنیو د څانګې مشر
د ماليې وزارت
۰۷۹۹۳۲۶۳۸۳
mof.media@gmail.com